آصف بهاند ۲۰۱٤/۰۲/۱۴

# لنډۍ او د لنډۍ د ثبتولو ستونزه

## (څلورمه برخه)

له ملاجانه تمه نه شي ... دين يي دكان كړ، غنيمت ورته راوړينه
وطنه ته به كله جوړشي ... زما په زړه كې دي راجوړكړل سل درزونه

د لنډيو تكاملي سيرته كه وكتل شي ليدل كيږي چې پخوا به مين او درد ليدونكي بنده خپل درد اوغوښتنه د لنډۍ په جامه كې ويله، غره، څنګله، ديواله اوكمره به اوريدله او ډې رلړ به د چا په ذهن كي خوندي شوه؛ خواوس چې كوم مين او دردمن خپل درد اوغوښتنه مطرح كړي، قلم، كاغذ، كتاب، راديو، تلويزيون او كمپيوتر كې ثبتيداى شي او ترتولوپوري لا په يوه لنده شيبه كې رسيږي.له زړه او ذهن نه كاغذ ته، بيا د نورو خلكوغوږونوته، له كلي نه ښارته، له ښارنه ښارونو او هيوادونو ته اوبيا ټولي نړۍ ته، له پټي كليوالي ميني نه د ښار ښكاره عشق او غږونو ته، له ښكاره غږونونه، ايمل، فيسبوک اوكمپيوترته.كمپيوترته يي چې پَښه ورسده، بيا نوله ضايع كيدونه ژغورل كيږي.

په تكرارسره بايد وويل شي چې لنډۍ بايد ثبت اوخوندي شي، خونه د شخص په نامه، ځكه چې لنډۍ د ټولو خلكو مال ګڼل كيږي.په هر وخت كي د لنډۍ ثبتول يو ضروري او اړين كاردى، خونه په خپل نامه.د لنډيوتكاملي سير داسي دى چي له ګودره راغله ا ويه فيسبوک دريدلي ده.څنګه چې تأريخ ثبتيږي، همداسي لنډۍ هم بايد ثبت شي او د امكاناتو تروسه دي د فولكلور د قوانينوپه چوكاټ كي دا كارترسره شي.

دلته د دې خبرې يادول ډېراړين ګنم چې په دې ورستيوكې د «تپيزه» په نامه يو نوى شعري ژانر سر راپورته كړى دى.د دې آزاد شعر د هربند په وروستۍ برخه كې لنډۍ يا د لنډۍ وروستى نيم بيتى را اخستل كيږي.پوهاند د كتورمجاور احمد زيار ځان د دې آزاد شعر«تپه» باني اوموسس ګڼي.(۲۶)دا ادعا يې په خپل اثر«پښتو بدلميچ ( پښتوشعرڅنګه جوړيږي؟) » كې كړې ده اوبيا يې د «پښتو تپيزه د جاپاني هايكوترڅنګ يومنلى نوى شعري خيل دى» ترسرليک لاندې مقاله كې، چې د دوه زره دولسم كال د مارچ په اتمه(۲۰۱۲/۰۳/۰۸) په افغان جرمن ويبسايت كې خپره كړې ده، دتپيزې په ابداع اومهم والي باندې ټينګارهم كړى دى.

خوپه يوه ډېره تازه ليكنه كې ښاغلى فريد احمد تسكين د دې نوي شعري ژانر(تپيزه) نوښتګر ډاكترحنيف حيران بللى دى (۲۷)

دلته ما دغي موضوع ته ځكه څنګځني اشاره وكړه چې په دغه آزاد شعر(تپيزه) كې لنډۍ يا د لنډۍ يونيم بيتى را اخستل كيږي.دا چې څومره فرهنګيان به له لنډۍ نه د دې ډول پوراخيستني اوكاروني سره موافق وي اوڅومره به مخالف وي، دا به راتلونكوكې مالومه شي.زه د اوس له پاره د تپيزې د نوي ژانر اوپه هغه كې د لنډۍ اختلات باندې څه نه وايم،ځكه چې دا يوجلا او اوږده بحث ته اړتيا لري.

دلته د دې خبرې يادول اړين ګنم چې زه د دې دعوا نه لرم چې دا څيرنه به له هره اړخه بشپړه وي.دی اصل ته په پام سره چې:«هرچيرې چې كار شته، هلته تيروتنه هم شته»؛دې څيرنه كې به هم خامخا اشتباه وي، ما خپله وسه د خپلولاس لرلو موادو او امكاناتو په چوكاټ كي وكړه.د اوس له پاره ما همدومره وكړاى شول.دا اوږده پروسه ده، هيله ده چې نورقلموال يې هم پسې وغځوي.

زه خپلې هڅې نه درووم،جاري يې ساتم، كه د لنډيو د ثبتولو د طريقې د څرنګوالي په برخه كي چا كوم مثبت څه راسره شريک كړل اويا زه چيرې ورباندې ورپيښ شوم، هغه به هم د دې بحث يوه برخه وګرځوم، كه مې د لنډيو داسي چاپي ټولګي لاس ته راغلي چې ما په دې بحث كې معرفي كړې نه دي، هغه به لوستونكوته وروپيژنم، د نويو لنډيو د ټولولوهڅې به نورې هم ګړندۍ كوم اوله نويوبحثونواوتبصروسره به يې د دې سلسلې په نوروبرخوكې وړاندې كوم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكي په خير و لولئ

د دي مقالو په ليکلوباندي ما ښايسته اوږده موده تيره کړه، د همدي مودي په اوږدوکي مي دغه لاندي لنډۍ ثبت کړي دي چي زما له نظره نوي دي.که د چا له پاره تکراري وي، زه ورنه ښښنه غواړم اوکه د چا له پاره نوي وي، په ډيره مينه اولوريني سره يې ورته د لوستلو له پاره مخ کې ږدم:

کابل يي وران کړوران يي مه واى
لاس دې يې مات شي چا چي ويشتي راکټونه

جانانه سمه امريکا يي
هم ملامت يي، هم زارئ درته کومه

وړاندي ګلباغ نه ډزا ډوزشو
دآسمـايـي لـه څـوکـووختـل دودونــــــــه

خاونده بيا د سکر غږشـــــو
ورسره سم بيا کابـــل جان ژړا کـــويـــنـــه

بيا توپکي وحشيان ښکاره شول
هريوقدم خپل د انســان پــرستوني ږديــنـــه

چي وحدتيان دوستميان پوشول
بيا به تالا کړي کورا کور زلمي سرونه

کوردي سپيره شه توپکيه
چي دې سپيره کړل د کابل شينکي باغونه

پرکابل ږيري راغلي خدايه
بيا به تالاکړي توريکي هسک اورميـــړونه

د ږيرورو لښکر راغی
تياري خوري شوي، رڼا اوښکي تويوينه

مسافرته شوي، خواره زه شوم
خواره دي مورشه چي سفرته دي ليږينه

سياسي واک کي دا نوردي
تورودااغونوته دې مورنيولي يونه

تورو کارغانو توپکيانو
خداى موتباه کره چي کابل موتباه کړنه

د کابليانودي خداى مل شي
چي پرې راتوی شول ږيرور، تور اورميږونه

آسمايي بيا په ژړا سرشو
چي يي قتليږي لورا لور زلمي سرونه

په رڼوګوري ورته ژاړي
کابليان نه شي خلاصوي زلمي سرونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

سګرټه اوس به دې لمبه کړم
جانان زما دی خولګی تا ته درکوینه

که دې زما دیدن یادیږي
فیسبوک دې خلاص کړه په خندا ولاړه یمه

په مادې ټول کلی خبرکړ
په تا دې یودادا خبرشوزړه دې چوینه

که دې زما دیدن په کاروي
فیسبوک دې خلاص کړه زه آنلاین ولاړه یمه

زما جانان ترکوچوسپین دی
له ډنمارکي سره نوکردی تور به شینه

جانانه ستا مزه ګی نه شته
دوه یې ګړنګن او یو زانګوکي زنګوینه

جانانه ستا مزه ګی نه شته
زما همځولي یې تخرګ کې ګرځوینه

د مداریانو استا کاره
توره مدیره کړه خوله دې پیژنمه

له ما نه پاتې شوې کابله
که لوټه لوټه دې الماس شي څه بې کړمه

خاینه ګوردې کیناراب شه
چې لوی واړه دې په خولګی بولې کوینه

له اشارونه مسیجی شوه
مسیج مې نه زده یاري خاورې ایرې شونه

دیارمې سیمه غرنی ده
چې موبایل یې اوس آنتن نه ورکوینه

یارمې دغرونواستوګن دی
چې موبایل یې اوس آنتن نه ورکوینه

فیسبوک دې خلاص که ځوانیمرګ شې
دا څلور ورځې انتظار ولاړه یمه

لاس دې شل شوی دی که څنګه؟
چې ځواب نه شته دی زما د مسیجونه

په موبایل کې بې چارج نه وي
اتومات وایې یاردې نه کړي ځوابونه

که دې زما څیره یادیږي
سکایپ کې مې ګوره په خندا ولاړه یمه

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په سکایپ کې راغلي برابره
د «و» او« نه » به راته وايي ځوابونه

ديدن دې سکایپ کې راوليږه
هرڅه ورپيا دي د سکایپ نه شته قيمتونه

حال دې مسيژ کې راوليږه
لاري کوڅي له ملايانو ډکي دينه

حال دې فيسبوک کې راته کيږده
پردی وطن دی مزدوریَ کې اخته یمه

حال دې مسيج کې راته کيږده
دلته ډنمارک دی، مزدوریَ کې اخته یم

چې ټوپکيان راغلل کابل ته
خوشالي لاړه کوراکورګرځي غمونه

کابله لاړي دبل چا شوي
دناچاریَ شپې په بل ملک سبا کومه

دی به په کوم وطن ديره وي؟
زه ساده ناسته دراتګ تمه لرمه

ملک دې روزي شه ډنماركيه
زما په کلي ټوپکيان غوبل کوينه

هرچاته خپل وطن ګلزاردی
ما ته ګلزارکړي د کابل سپيره ډاګونه

وطن مي لويشت په لويشت خطرشو
خدای نا ترسو ډيرکړلي دي ماينونه

اخوان اشرار، ابرار به نه شي
که په کعبه کې زروار وخوري قسمونه

له ملا جانا نه تمه نه شي
دين يې دوکان کړ، غنيمت ورته راوړينه

زيره به يم بيا به شنه نه شم
نا مرد په دښته يک تنها پرې ايښي يمه

ته دي عکسونه را ايمل کړه
هرسات بي ګورم، که په دارمي خيژوينه

ځوانانو لوست ته ځان چمتوکړئ
تياره خوريږي ټوپکيان راغلي دينه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

دا ټوپکیان خوښماران دي
چي تیاره غواړي درنا کوي قتلونه

هر ړیره ور یولوی ښامار دی
خلک یي چیچلي روغ به نه شي په دمونه

تا چي کوڅه کي ټوخی وکړ
زه په توده برستن کي نیغه کیناستمه

خوب کي کابل سره ویده شم
چي رابیدارشم په پردي وطن کي یمه

ایمل دې راغی ته رانغلي
خلاص به دې نه کړم بې دیدنه ایملونه

په زنکدن مي ځان حاضرکه
وروستی دیدن دی زه یي تاسره کومه

خاونده دا به دې رضا وي
چي د ځوانی عمرماسکوکي تیرومه

خاونده دا به دې رضا وي
چي باقي عمراروپا کي تیرومه

دا خپله زدکړه راته اورشوه
له جاهلانونه په چل کي ځان ساتمه

دافیسبوکي یاران دې نور دي
خوشي لیکنوته دې زه نیولی یمه

د تورو غرو توره ښاماره
چي دې چیچلم خبرکړی به دې ومه

جانانه راشه په فیسبوک کي
چي په بیغمه زړه دې وکړم دیدنونه

ته د فیسبوک په څپو راشه
زه به دې وکړم ښه بیغمه دیدنونه

د فیسبوک مخ کي ځان ښکاره که
زه دې بشره خپل کمپیوترکي تل ساتمه

ته د فیسبوک آینه کي راشه
زه خوش نصیبه دې هردم زیارت کومه

جانانه راشه چي آنلاین شو
بس په خبروبه ښه تش کړوخپل ډک زړونه

که دې زما دیدن یادیږي
فیسبوک ته لاړ شه مخامخ ولاړه یمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

ته دې فیسبوک کې ځان څرګند کړه
زه به ګیډۍ ګلان په لاس ولاړه یمه

عکس دې راولیږه ایمل کې
چې په لیدویې رانه کډه شي غمونه

فیسبوک کې ځان راته ښکاره کړه
چې مې غمونه د ټول عمرکډه شینه

پخوا ګودر و اوس فیسبوک دی
فیسبوک کې نه شته د ګودرنرم بادونه

آذان په ځنډ کوه طالبه
زه د جانان غیږې ته اوس ورسیدمه

آغه تیره چوړکۍ مې راوړه
چرګې،چرګان ټول ټوغکي نیولي دینه

دلته ستړۍ د ویرپرتې دي
هلته دلۍ راته دغم ولاړې دینه

سود خو په شرعه ناروا دی
په ما روا دی چې څلورښځې کومه

هغه تیره چوړکۍ مې راوړه
دا ټول چرګان مې ټوغکي نیولي دینه

حلالولی یې هم نه شم
ګرده چرګان مې ټوغکي نیولي دینه

ته په فیسبوک کې عکس کیږده
چې هرسهاردې په لیدوزیارت کومه

زما نصیب کې جانان نه شته
که د تعویز پرځای ملاپرغاړه کړمه

په زړه مې ته، پلمې مې نورې
کلي کې ګرځم ماشومان کراروما

جانان زما په سرجانان دی
که زه یې پریږدم د کوڅو ملنګ به شینه

ځومره ساده اوس عاشقي شوه
په اِس اِم اِس کې کار کوژدې ته رسوینه

مآخذونه:


۱-http://spinta.de/PDF/maqalat/Landay٪۲۰jahanbine%pashton۱.pdf
پښتو لنډۍ، دافغانستان د علومو اکاډیمي، پښتوټولنه،۱۳۶۳ ل کال -۲
۳-http://spinta.de/PDF/maqalat/Landay٪۲۰jahanbine%pashton۲.pdf


---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لیمه (له ماسکونه خپریدونکي مجله)،پرله پسي لسمه ګڼه،۱۹۹۹کال،۳۰- ۳۱مخونه-٤
امروز(له ماسکونه خپریدونکي مجله)،پرله پسي دویمه ګڼه،۲۶-۲۵ مخونه -٥
٦-http://spinta.de/PDF/maqalat/PPLoo١.pdf
ینس اِنه فولدسن،سپوږمیه کرڼګ وهه راخیژه،پیېور،۲۰۰۰ م کال -٧
کابل (مجله)،دافغانستان دعلوموااکاډیمی خپرونه،۱۳۸۶کال،۲-۱ ګڼي،۱۷مخ -٨
کابل(مجله)،دافغانستان دعلوموااکاډیمی خپرونه،۱۳۸۶کال،۸-۷ګڼي،۶مخ -٩
پښتولنډۍ،داستادعبدالروف بینوا په زیار،دانش خپرندویه ټولنه،۱۳۸۷کال – ١٠
پښتولنډۍ،دافغانستان دعلوموااکاډیمي،پښتوټولنه،۱۳۶۳کال ـ ١١
غلجی محمداجان(ټولونکی)،ننني لنډۍ(دناکراره کلونوټپې)،۲۰۰۲م کال،دمقدمي ز مخ ـ ١٢
صدیقي عوض الدین،ویښي جذبې،روغ توپانونه(دجهادي لنډیوټولګه)۱ټوک،۱۳۷۰ـ١٣
١٤-http://www.hewad.com/landay/rafi.htm
١٥-http://www.hewad.com/landay/hakimi.htm
١٦-http://www.hewad.com/landay/stanekzai.htm
١٧-http://www.hewad.com/landay/nazari.htm
١٨-http://www.hewad.com/landay/halimi.htm
١٩-http://www.hewad.com/landay/zadran.htm
٢٠-http://www.hewad.com/landay
٢١-http://benawa.com/pashto/landay/٧.php
٢٢-http://www.zarlakht.net/fullcontent.php?id=٦٥٠٢
٢٣http://afghannang.com/index.php?option=com_content&amp:task=view&amp:id=٢٥…
٢٤-http://khost-web.net/index.php/٢٠١٠-٠٤-١٤-١٧-٤٨-١١/landay/٢٣٩٨-q
٢٥http://picasaweb.google.de/pashtoonkhwa/PashtoLandey/TartebAbdulQadirMasoud
زیار،پوهاند دکتورمجاوراحمد،پښتوبدلمیچ(پښتوشعرڅنګه جوړیږي؟)،دانش خپرندویه-٢٦
ټولنه،دویم چاپ،۲۰۱۰زکال،۲۷۵ مخ
٢٧-http://www.taand.com/archives/١٧٨٩١

۲۰۱۴/۰۲/۱۲

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ